دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه
ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل

# یوی اطـــــــریشـــــی ورځپاڼی ولیکل:
# افغانستان دامپریالیزم ادیره(قبرستان)

یوی اطریشی ورځپانی پر(۲۰۰۹،۲،۱۵)نیټه باندی په یوه څیړنه کښي په اشاری سره ولیکل ،افغانستان داهسی یوه مسئله نه ده چي لویدیز وکولای سی دغه مسئله حل کړی ، په پیش لیک (تاریخ ) کي دغه هیواد یي په دی ډول سره څیړلی دی ،چي داهیواددامپریالیزم ادیره بولی چي دا اوس مهال امریکا اوناټو یي دماتی اودناکامی په واټ کي دمنځه وړلو حالت ته یي راوستی دی .

اطریشی ورځپاڼی «کوریر» په دی څیړنه کي په دی هکله پردی مطلب باندی ټینګار کوی،چي افغانستان دامپریالیزم په ادیره او(قبرستان ) اوښتی دی اوپه دی سیمه اوهیواد کي وروسته دانګلیس اودپخوانی شوروی اتحاد نه اوس وار دامریکا اودده سره دناټو دی ،په دی هکله یي ولیکل : امریکا دبوش دجمهوررئیس دریاست په وخت کي اود(۲۰۰۱) دوه زره یووم کال دسپټامبر دیوولسمی نیټی دپیښی وروسته پریکړه یي وکړ ،القاعده اوطالبان چي دسړی جګړی په وخت کي دوي په خپله دغه ترورریستی ډله یي په وسلیوسمبال اورامنځته کړی اوجوړکړی وه نورنوددوي کار ختم اودپای ټکی ورته کښیږدی اودمنځه یي یوسی .

په دی ورځپاڼی کي لیکوونکی ددی مطلب په ادامه سره لیکی چي دسړی جګړی په وخت کي دپاکستان دامنیتی ارګانونوپه مرستی سره دغه بنسټ پاله ډله یي په قبایلی سیموکښي خپل دایدیولوژیک دښمن په وړاندی دمبارزی اوجګړه کولودپاره په وسلیواونظامی سامان او الاتوباندی سمبال کړ اوننه ورځ دغه بنسټپاله افراطی ډله چي دامریکا اودغه دملګروپه وسیله سمبال سوی وه اوس ددوي امرنه مني ،دوي یي خوښی کړی اوسرکشی ځینی کوی،او اوس مهال هم واشینګټن اوهم دهغه ملګري دشمالی اتلانتیک دسازمان نظامی تړون یي دماتی اودمنځه وړلو په واټ کي قراروړکړی اودناکامی سره یي مخامخ کړی دی .

لیکوونکی ددی مطلب په ادامه ورکولوسره دافغانستان پرکړکیچنوحالاتو اووضعیت باندی اشاره کوی اولیکی یي : اوسمهال په سلوکښي (۷۰)اویافیصده دافغانستان خاوره دطالبانو دډلی ترواک اولاس لاندی دی ،اوډیره موده کیږی چي پاکستان هم ددی بنسټپالی ډلی په ویروس سره اخته سوی دی .

دافغانستان خلک هم په داهسی شرایطوکښي نورنوددموکراسی سوچ اوفکرپه خپل ذهن کي نه راګرځوي .

لیکوونکی په پای کي په اشاری سره په دی هکله دامریکا دنوی جمهور رئیس دشخصی دلایلوپربنسټ چي دافغانستان مسئله یي خپل د بهرنیوچاروپه ترسره کولوکي په لمړی سرکي یي ځای ورکړی دی اوغواړی چي نور ډیر امریکایی سربازان ودی هیوادته ورولیږی اوپه دی ډول په خپل فکرسره نورډیرغیرنظامی مرستی رامنځته اوزیات کړی په دی اړه یي ولیکل : ایا دابه ،دعاقلانه اوربښتینی بهیر بدلون په دی لورکي انځوراورامنځته سی ،دذهن څخه ډیرلیری دی .

لیکوونکی همدارنګه ټینګار کوی چي افغانستان داهسی یوه مسئله نه ده چي لویدیز وکولای سی چي هغه حل کړی .

# دانګلیسی شبکی میډل ایست اونلاین څېړنیز یاددابنت!
# دامریکا دامپراطوری دوران سرته رسیدلی دی :

که امریکا خپل دغیر رسمی امپراطوری څخه په نړی کې پرشا نه سی ، اوخپله دفاعی بودجه یې چې په ډېروحشتناکه ډول سره زیات کړی دی ،رالږ یې نه کړی ،او په نړیوالومسائلوکښې دځانه څخه تواضع ونه نښئ اودغروردعمل څخه ځان خلاص نه کړی اوددی عمل څخه لاس پرسرنه سی، دغه رښتونی او ریالستیک فاکتونه اوواقعیتونه به تروخت دمخه به ډېرژور راپیښ اورامنځته سي .
انګلیسی شبکې میډل ایست اونلاین دامریکا دکورنې اوبهرنۍ وضعیت په هکله په یوه څېړنه کې وی لیکل : دامریکا دامپراطوری دوران سرته رسیدلی دی .
ددی یاددابښت ټول متن په لاندی ډول سره دی : که یوکس وغواړي چې خپل دژوندکولودمطالبو میزان وسنجوي ،دغه مسئله په ځیر سره دخپل اوسنی وضعیت سره نه ترسره کوي ، مګرهغه هیلی اوغوښتنی چې دژوندانه څخه یې لرې ،دغه کار ترسره کوي .
دبیلګی په توګه یو غریب سړی په یومخته تللی هیواد کې دیوی جوړ ی بوټونوپه درلودلوسره چې لمړی ځل یې رانیولی دی ،ډېر پری خوشحاله اوخوښ دی ،اما یوملیارډردبازارپه رالویدلوسره( ۱۰۰) سل میلیونه ډالره دلاسه ورکوی اوتاوان کوی ، سمدلاسه ځان وژنه کوی .
دغه مسئله په پراخه سطحی سره دیوهیواد دخلکوپه منځ کې هم کیدی سی همداهسی اووسی.
دبیلګی په ډول سره اوس مهال دامریکا ممتازه طبقه ددوهمی نړیوالی جګړی دوخت څخه راپه دی خوادسیاسی اوفرهنګی لوړتیا څخه ګټه پورته کړی اوګټمن سوی دی اوددی هیواد دواک اوښکیلاک څخه په نړی کې په داوروسیتودوولسیزوکښې خصوصاً دپخوانی شوروی اتحاد دړنګیدوڅخه سرمسته دی ،ځکه چې دپخوانی شوروی اتحاد دړنګیدوڅخه ،امریکا دنړی دیویوازنی ستر واکمن اوځواکمن ترسرلیک لاندی مطرح سوی دی . په رښتیا سره دامریکا ممتازه طبقه ددی حقیقت دمنلو په وړاندی چې اوس مهال دیوقطبی نظام دوتلوپه حال کې دی اونړی ویو څوقطبی نظام ته بدلون مومی ،اودغه طبقه ددغه بدلون په وړاندی دریږی اومقاومت کوي . په دی صورت کې که امریکا خپل دغیر رسمی امپراطوری څخه په نړی کې پرشا نه سی ، اوخپله دفاعی بودجه یې چې په ډېروحشتناکه ډول سره زیاته کړی ده ،چې رالږ یې نه کړی ،او په نړیوالومسائلوکښې دځانه څخه تواضع ونه ښیئ اودغروردعمل څخه ځان خلاص نه کړی اوددی عمل څخه لاس پرسرنه سی، دغه رښتونی او ریالستیک فاکتونه اوواقعیتونه به تروخت دمخه به ډېرژور راپیښ اورامنځته سي .

حتی دنړی داقتصادی کړکیچ دپیل نه مخکې دهغه په راس کې امریکا ،چې اوس یوپاشلی اودمنځه تللی امپراطوری دی او ددی هیوادپه نظامی اډیو کښې ، دامریکاد ملګرو په منځ کې ،په نوروهیوادونوکښې دنظامی لاسوهنوپربنسټ اوهمدارنګه دامریکا دنظامی ځواکونوپه منځ کې داخلاقی مفاسدودکبله ، په ګړندی توګه سره خپل رنګ یې بایللی دی . اوهمدارنګه سربیره پردی باندی دامریکا ناخالص ملی تولیدیوازی شل په سلوکښې وو، داهیواد ډېر تره تر(۴۳) دروڅلویښت فیصده پوری دکلنی بودجی څخه په نظامی چاروکې یې مصرف کړې دي اوس لکه سرمایداران اودانګلیستان اودفرانسی ممتازه طبقی په شان چې یووخت په خپل ځواک باندی ویاړیدل اوزیار یې ایستل چې خپل دځواک په وسیله دکمزوروهیوادونوپرضد کارواخلی ،اما اوس دیوی پردی په راکشولوسره تردی سرلیک لاندی ،په لمړی اودوهمه نړیواله جګړه کې هیوادونه دجګړی نه ستړی سوی دی ،دامریکا لوړه اوممتازه طبقه ددی مسئلی له کبله چې هیواد ودی ته اړتیا لري نووخپل بی تاثیره سیاستونوته بدلون ورکړی ترڅودړنګیدوڅخه مخنیوی وکړی ،ددغه کړنی څخه اوړه تشوي اونه یې مني .



اوس مهال امریکا دافغانستان اودعراق په ختو(لجن زار)اومشکلاتوکې بنداوپاته راغلی دی ،بن لادن په پاکستان کې دی او امریکا داقتصادی پلوه دېرزیات کمزوره اوبی واکه سوی دی .
که څه هم بارک اوباما ددی غمیزی اوویجاړوضعیت مسئول نه دی ،سربیره پردی هم په یقین سره ددی پرابلمونواومشکلاتوسره به لاس اوګریوان وي . دی به کیدی سی دمالیاتودپه زیاتوالی کې بی مېنه اوبی میله وي ،اما بارک اوباما به هم دبوش زیاراوهاند دخلکوداحماقت کیدودپاره به ودی ډرامی ته ادامه ورکړی .
نوپردی بنسټ داهسی لیدل کیږی چې دامریکا هیواد دتریلیون ډالروکرسي بودجی په درشل کی قرارلری ،اوپه رښتیا سره اوباما ودی ته اړتیا لری چې دخپل عقل اوپوهی سره عمل وکړی ،اودا صحیح اورښتیا دی چې دهغه پرشا کیدل دعراق څخه ښه کړنه ده ،اما دی هم باید دعراق اوهم دافغانستان څخه په تولیز ډول سره پرشا سی او ووځي ، اواوباما باید خپل دفاعی اونظامی بودجه لړاوراتیټ کړی ،اوپه رښتیا سره امریکا مجبوره دی چې دغه کار او کړنه ترسره کړی اوپه خپل کړنلاره اوکرکترکې بدلون رامنځته کړی امریکا باید په دی وپوهیږی چې دواک څخه دکار اخیستنې دوران پرنړی باندی دواکداری دپاره پای ته رسیدلی دی ،اودا په داهسی حال کې دی چې دامریکا لوړه اوممتازه طبقه لاتراوسه پوری هم دغه حقیقت او واقعیت یې نه دی منلی .

# اوباما :په افغانستان کې دکار پای چیری دی؟ دموکرات ګوندپه ختواو(لجنزار) کې لکه په ویتنام کې !

**دامریکا ددفاع وزارت پینتاګون لخواڅه موده مخکی داهسی ویل کیدی چې (۱۷۰۰۰) اوه لس زره نوی ځواکونه وافغانستان ته ولیږی مګر داوباما دیوشمیر طرحواوورانديزونوله کبله ددغو ځواکونولیږل شاته ورغورځول سول . ددموکرات ګوندیوشمیر جګپوړی مشران انګیرنه لری اوپه تشویش کې دی چې افغانستان دبارک اوبامادپاره دویتنام په څیر چې په ختو او (لجنزار) کې بند پاته سوی ووهمداسی راګیرنسی .**
**فاکس نیوز په هکله وویل : بارک اوباما دامریکا جمهور رئیس دامریکا دفاع دوزارت دلوړوقوماندانوڅخه وغوښتل وافغانستان ته د(۳۰۰۰۰) دیرش زرونوي ځواکونودلیږدلو مخکی دامریکاپر نظامی استراتیژی باندی په دی هیوادکې دسره غوروکړی اوترنوی څیرنی لاندی دی ونیسی .**
**دامریکا ددموکرات ګوند مشران او جګپوړی چاروکی د (۳۰۰۰۰) دیرش زره تنه نوی ځواکونولیږدل ودی هیواد بیله یوارخیزی کړنلاری اودوتلوداستراتیژی نه په تشویش اوانګیرنه کې دي .**



دمطبوعاتودخرګندېدونی پربنسټ تیره اونی باید دامریکا ددفاع وزارت پینتاګون (۱۷۰۰۰) اولس زره نوي ځواکونه یې افغانستان ته ورلیږدلی وای ،اوددفاع دوزیر رابرت ګیټس دیوشمیر پوښتنوپه طرحه کولواو وړاندی کولوسره دنوموړی شمیرځواکونوورتګ شاته ولویدل .
بارک اوباما تیره میاشت په خپل لمړنی جلسه کې یې درابرت ګیټس دامریکا ددفاع دوزیر اوددفاع دوزارت دګډوځواکونودستردرستیز دمناسبی استراتیژی دنه درلودل له کبله دافغانستان په هکله دځانی یې تشویش وښوداوددوي نه یې پوښتنه کړی وو:(دکارپای ته رسول څه دی ؟) اودقناعت وړ ځواب هم دخپلې پوښتني په هکله نه وو ترلاسه کړی .
دویلی وړ دی چې بارک اوباما هغه وخت ،خپل دټول ټاکنی دمبارزی په وخت کې د(۷۰۰۰) اووزروڅخه بیا تر(۱۰۰۰۰) لسوزرو پوری دسربازانوپه لیږدلو یې وافغانستان ته ټینګار کول اوقول یې ورکړی وو چې دونه شمیر ځواکونه به لیږی،خودامریکا ددولت جګپوړی چارواکی ددی شیمرڅخه دنوروزیاتو ځواکونودلیږدلوغوښتوونکی دي .

همدارنګه دساندی تایمز دلیکنی پربنسټ ددموکرات ګوند مشران اوجګپوړی چارواکی افغانستان یوبل دختیځ او(لجنزار) په اولښتولوسره دویتنام دختیځ او(لجنزار) په شان بولی چې ممکن واوباما ته په همدی ډول سره و ګرځي ،نوله دی کبله په تشویش اوانګیرنه کې دي .

## دامریکایی پیښ لیک پوهانو(تاریخ پوهانو) په منځ کې دلړلیدونودپایلی په ترخ کې ثابته سوه:

***جورج بوش دامریکا په پیښ لیک (تاریخ ) کې د ډیره بدی څیری اومنفور جمهوررئیس په توګه پیژندل سویدی***:دامریکا دهیوادپه پیښلیک (تاریخ) کې د(۴۲) دووځلویښتوجمهوررئیسانوپه منځ کې کوچینیی بوش (۳۶) شپږدیرشم ځای ونیول اوپه نړیوال کچه دنړی په جمهوررئیسانوکې دبدی څیری اومنفورکس په توګه له دی کبله هم یوځلویښتم ځای یې ترلاسه کړ،بوش په دی نیولیک(فهرست) کې داقتصادی اداری واک له کبله هم ځلویښتم ډېرټیټ ځای یې نیولی دی .




دروسیي ورځپانی «ایزویستیا» انترنیتی سایټ ولیکل: دامریکا دپیښلیک پوهانو(تاریخ پوهانو) په یوی ټول پوښتني اودلړلیدونوپه پایله کې ثابته سوه چې ښه ترینه اوبدترینه ،خپل جمهور رئیسان یې ټاکلی دی په دی هکله ایزویستیا دایتارتاس دخبری شبکی په حواله لیکی : (۶۵) پنځه شپته کـــــسه پیښلیک پــوهـــانو(تاریخ پوهانو) ابراهـــام لینکلن یې دامــــریکا په




پیښلیک (تاریخ) کې دډېرښه اونامتوجمهوررئیس په توګه پیژندلی دی په دی نیولیک (فهرست )کې جورج ډبلیوبوش دډېربده څیری اومنفورجمهور رئیس په توګه دامریکا په پیښلیک (تاریخ ) کې وپیژندل سو .

کارپوهانودامریکا دهر جمهور رئیس په هکله د لسوخصوصیاتوله وجهی نه دجمهوررئیسانو دکړنوپه څیړنواوپه څرګنده ولوسره یې ددوی په هکله یې دغه پایلی دلاندنیوجمهور و رئیسانوپه اړه په ګوته کړی ،اودغه پایلی وروسته ددقیقوڅیړنوڅخه د"C-Spen" دټلویزیونی شبکی لخواخپورسو جورج واشنګتن، فراکلین روزولت، تئودور روزولت او هری ترومن دابراهام لینکلن سره پنځه تن پخوانی جمور رئیسان دډېرښه جمهور رئیسانو په توګه لومړی ځای یې ونیول او دامریکا دری پخوانی جمهور رئیسان رونالد ریګان لسم ځای ،بیل کلینتون پنځلسم ځای ،جورج بوش پلار اتلسم ځای یې په دی نیولیک (فهرست ) کې نیولی دی .



کارپوهانو دجمهور رئیسانوګرانښت اودرنښت یې اوهم نه درنښت اونه ګرانښت یې په مستقیم ډول په ټول پوښتنی سره دننی معاصری نړی دواقعیتونو څخه سم پردی بنسټ ګټوربولی ،دغه ټول پوښتنی اولړلیدونه د ابراهام لینکلن دزیږدو دکالیزی او ددولتی جشن په درشل کې چې پرانستل سوی وو هغه وخت اخیستل سوی دی ./

-اخیځلیک دفارس نیوزاوقطره نیوز څخه

22.02.2009